ليکوال: ډاکټر خسرو سنګروال　　لندن , نیټه ۲۳-۱۱-۲۰۱۰

# د طبي اخلاقو بنسټونه

تېره پېړی چې په انساني تاريخ کې د ودې او پرمختګ تر ټولو چټکه پېړی ګڼل کيږي، د طب او درملنې په ډګر کې هم د ايښنده پرمختګونو شاهده وه. د دې پېړی په اوږدو کې د انساني ژوند اوږدوالی په منځنۍ توګه په سلو کې ۶۴ ډېر شوی دی. د ژوند، خوراک، اوسيدنې او استوګنې معيار، د طبي ميندنو له برکته تر ټولو لوړې کچې ته رسيدلی دی. د پنسلين، انسولين او نورو درمليزو توکو پيژندنه او په سوداګريزو کچو د دې توکو جوړونه د ډيرو ځورونکو ناروغيوملا ماته کړې ده. د ډله ايېز واکسين او نورو معافيتي کړووړ چټک پرمختګ د ګوزڼ، شري، چيچک او ربيلا په څير وژونکې او معيوبونکې انتاني ناروغی يا د ځمکې له سره ورکې کړې دي او يا يې د ورکولو په حال کې دي.
د تشخيصي طب بېساري ودې د سلګونو ناروغيو وختي پيژندنه او درملنه شونې کړې ده. د غږنو څپو Ultra Sound ، Xوړانګو Xray، او مقناطيسی انځورنې(MRI) Magnetic Resonance Tomography طبي کاروني دچنګابنې ناروغيو درملنه کې د ډاکټرانو کار ډير اسانه کړی دی. د طبي سازو سامان ودې د جراحی طب په ډګر کې داسی عمليات اسانه کړي دي چې يوه لسيزه د مخه يې تصور هم نه کيده. د ارثی او ذروی طب ونډې د لسګونو مور زيږدي ناروغيو د وختی پيژندنې، مخنيونې او درملنې کار اسانه کړی دی. مخنيويز طب د انتاني او نورو وژونکو ناروغيو شمير او ګواښ پخ کړی دی.
خو د طب ودې سره سره د دې ډګر لوبغاړو او څيرونکو ته ننګونې لا هم ډيرې شوې دي. ډاکټران او روغتياپالان اوس د تاريخ له هر تير پړاو نه لا ډير د جدي او کلکو ننګونو سره مخ دي. د ټولنې او وګړو توقعات او غوښتنې له طبی نړی نه لا ډېرې شوې دي، او د ناروغيو په درملنه کې د ډاکټرانو پاتې راتلل له هر وخت نه ډير زړونه ماتوي.
خو د طبي او مسلکي ننګونو سره ډغرې د دې ډګر يواځنۍ ستونځه نه ده. هغه څه چې نن سبا تر بل هر وخت نه ډير اړين بلل کيږي هغه د طبی اخلاقو او پت پالنه ده. په تيرو نږدې لسيزو کې نړيوال فلسفه پوهان او د طب د ډګر لوبغاړي په دې برخه کې د کار کولو اړتيا ته متوجې شوي دي. د طب او طبي تکنالوژۍ ودې د ځان سره د اخلاقی ستونځو او ننګونو يوه نړۍ راوړې ده. نننی ډاکټر، په ځانګړې توګه پرمختللو هيوادونو کې، د درملنې د هر ګام پورته کولو سره دې ته اړ دی چې د خپلې درملنې اخلاقي اړخونه وشنې. د طب او درملنې اخلاقي اړخ ته ډيرويدونکې پاملرنه که څه هم يو مثبت بهير ګڼل کيږي، خو ډېرې وخت په ډاکټرانو باندې يو داسې بوج کيږي چې بنايي په درملنې اغيز وشيندي. خو په هره توګه د طب په ډګر کې د اخلاقو مراعات اړين بلل کيږي.
له بل پلوه نننی ټولنه ځان د نوي او پرمختللي طب دومره احسانمنه او پوروړې ګڼي چې ډېرې وخت له ډېرو بوږنونکو طبي اخلاقي نادودو او تېروتنو نه هم سترګې پټوي.
په افغانستان کې د طبي څيرنو پيمانه هسې هم سپکه ده او د طبي اخلاقو په اړه ليکنې د نشت سره برابرې دي. دا ډېره اړينه ده چې ډاکټران د بنسټيزو طبي اخلاقو نه خبر وي چې طبي پرکټيس يې له اخلاقی پلاوه د منلو وړ وي.
دلته په لاندې توګه د طبي اخلاقو بنسټونه په دې ډګر کې د کار د پيلامې په توګه وړاندې کيږي. بيلابيلو نړيوالو طبي او حقوقي مرکزونو په بيلابيلو وختونو کې ډول ډول د درملنې اخلاقي لاښودونه خپاره کړي دي چې په دې مرکزونو کې د انساني حقوقو نړيواله اداره او د بريتانيې جنرل ميډيکل کونسل ډير څرګند دي. خو هغه څه چې په ټوله نړیٔ کې د ډيرو طبي بنسټونو لخوا نه د پراخ بريده اخلاقي ارونو په توګه منل شوي دي هغه د بيوشمپ او چايلډريس Beauchamp&Childress له اړخه راپيژندل شوي د طبي اخلاقو څلور لاندې بنسټيز ارونه دي:

۱-ځانواکي Autonomy

۲- برابري Justice

۳- ښه کول Beneficence

۴- زيان نه رسول Non-maleficence

دا څلور ارونه ، که څه هم د ځنې څيرونکو لخوا نه ډير ساده او تور او سپين بلل شوي دي خو په ټوله کې ډير پراخ بريده ،او د بيلابيلو کلتوري او ديني چاپيرپالونو سره سمی خوري. دلته هر يو ار په لنډو باندې سپړو.

۱- ځانواکي Autonomy
ځانواکي په دې مانا ده چې ناروغ ته بايد د خپلې ناروغی په درملنه او سمبالولو کې پوره واک ورکړل شي. د ناروغ هيلو او غوښتنو ته درناوی وشي، او دې ته وهڅول شي چې د خپلې ناروغۍ په درملنه کې منځنۍ ونده ولري. په


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

خپله ناروغ ته باید د ناروغی په اړه او د ناروغی د تشخیص او درملنې د پایلو په باب پوره مالومات ورکړل شي، ټولې مثبتې او منفي پایلې ورپه ډاګه شي، او وروستی فیصله ناروغ ته پرېښودل شي.
په ختیځو هیوادونو کې د طبي کړیو تر منځ یو وران دود دا دی چې ناروغ ډېری وخت وروستی سړی وي چې د خپلې ناروغی نه خبرېږي. د وژونکو ناروغیو لرونکي ته هیڅ کله د تشخیص، درملنې او د ناروغی د پایلې په اړه نه ویل کیږي. دا هغه څه دي چې د طبي اخلاقو د لومړني ار ، یاني ځانواکی سره په ټوپیر کې ده.
د ناروغ ځانواکی ته درناوی ایجابوي چې د درملنې پیل نه د مخه ناروغ ته پوره مالومات ورکړل شي او یواځې هغه وخت درملنه پیل شي چې ناروغ خوښه ورکړي. همدا راز ناروغ بایده ده د دې پوره واک ولري چې د درملنې منلو نه ډډه وکړي خو په دې شرط چې ناروغ په ذهني لحاظ د داسي یو تصمیم د نیولو جوګه وبلل شي. د درملنې منلو او نه منلو نه د مخه باید ناروغ ته د ناروغی او درملنې په اړه پوره مالومات په خپله ژبه وړاندې شي. د داسې ګرانو طبی ،لاتیني او عربي اصطلاحاتو او ګړنو نه باید ډډه وشي چې د ناروغ سر پرې نه خلاصیږي.
دوه داسي اکرونه دي چې د ځانواکی کیسه پکې ډېره مطرح ده . لومړی د ډېر عمر ناروغانو کې او دویم په هغو ناروغانو کې چې د بیرته رغیدو شونتیا یې نه وي او له ذهني لحاظه هم د دې جوګه نه وي چې د ژوندي ساتونکو درملونو او ماشینونو د درولو هیله څرګنده کړي.
د ډېر عمر ناروغان ډېری وخت د ګنو ناروغیو له کبله دومره په صحي توګه نیمګړي شوي وي چې د درملنې اوږدول ورته د یو درونډ پیټي په څیر په اوږو بار وي . دا ناروغان د زړه له کومې نه غواړي چې د زړه دریدو په مهال یې څوک په سینه باندې ټوپونه ووهي . نو له همدې کبله ده چې د دې ناروغانو وروستیو هیلو ته درناوی وشي او هڅه وشي چې د ژوند وروستی شیبې له درد او کړاو نه په کراره تیرې کړي.
هغه ناروغان چې روغتیا یې دومره زیانمنه شوي وي چې نور یې نو د رغیدو هیله نه وي او د ژوندي ساتونکو درملونو او ماشینونو په مټ یې یوازې سا چلیږي ، او ماغزو یې د دې وړتیا له لاسه ورکړې وي چې د خپلې درملنې د اوږدولو یا درولو په اړه تصمیم ونیسي، په داسي اکرونو کې غوره تعامل دا دی چې د تجربه منو او مسئولو ډاکټرانو یوه ډله (له یو نه ډیر ډاکټران چې د ناروغ په ژوند او مړینه کې یې کومه ګټه نه وي) داسي یوه پریکړه وکړي چې ناروغ ته تر هرې بلې پریکړې ګټوره وبلل شي.

۲- برابري Justice
په طب کې برابري په دې مانا ده چې رغښتګرو او روغتیاپالانو ته په کار ده په درملنه او د روغتیایي اسانتیاو په ویش کې له مناسب چلند او انصاف نه کار واخلي. که چېرې یو ډاکټر د توکم، رنګ، ژبې، هېواد،شخصی سلیقې ،جنس او جنسي اخلاقو په بنسټ له نورو ښه یا بده درملنه وکړي نو د برابری ار به یې تر پښو لاندې کړی وي. د دې ار پام کې نیول څومره چې ډاکټرانو ته اړینه ده همداسې د یو هیواد د روغتیایي څانګو چارواکو ته هم هرو مرو ده. هرو مرو دا ده چې چارواکي د هیواد بیلابیلې سیمې د روغتیایي اسانتیاوو د ویش له پلوه په مور او میره ونه ویشي. دا خبره مخ په ودې هیوادونو کې، چې روغتیایي اسانتیاوې په کې د ناروغانو د شمیر په تناسب لږ دي، ډېر ارزښت لري. د یوې ټولنې د قشرونو تر منځ روغتیایي نابرابري ناوړینونه زېږولی شي.
په پر مختللې نړۍ کې د برابرۍ مسئلې په زړه پورې او ګراني پوښتنې پیدا کړي دي. د بیلګې په توګه که یو ناروغ د سګرټو د څکاک له کبله بیا بیا د سږو په ناروغیو اخته کیږي اود ډاکټرانو د لاربښوني سره سره له څکاک نه لاس نه اخلي او په روغتیایي سرچینو باندې بوج اچوي ، ایا دا به د برابری د اصل سره په ټوپیر کې نه وي چې دا ناروغ د ډاکټر د لاربښوني د نه منلو له کبله بیا بیا بستر شي او د یو بل ناروغ د برخې روغتیایي خدمتونه هم وخوري؟ دا ډیرې ګراني اخلاقي پوښتنې دي چې فلسفیان یې په ځوابولو کې پاتې راغلي دي.
۳- ښه کول Beneficence
ډاکټر له اخلاقي پلوه په دې ګمارلی دی چې د خپل ناروغ د روغتیا او ښېګڼې لپاره کار وکوي او ناروغ ته ګټه ورسوي (Beneficence)
کیدای شي دا کار کله کله د ناروغ او د خپلوانو د غوښتنو او انګیرنو سره په ټکر کې وي. دلته نو بیا ډاکټر ته په کار ده چې له خپل ټولنیز مهارت نه کار واخلي او هغه څه وکوي چې ناروغ ته په ګټه وي.
داسي پیښې هم راتللی شي چې ناروغ یا د کوما په حال کې وي او یا د بلې کومې ستونځې له امله د ځان په ګټه د تصمیم نیولو جوګه نه وي، او کیدای شي د کورنی او خپلوانو تصمیمونه یې د ناروغ په ګټه نه وي . دلته ده چې ډاکټر د ښه کولو د اخلاقو په بنسټ دې ته اړ دی چې د ناروغ او یوازې د ناروغ په ګټه ګام پورته کړي.
خو کله چې ډاکټر د ناروغ په ګټه درملیز اقدامات کوي نو ښکاره ده چې هره درملنه د احتمالي ستونځو او ربړو سره هم ملګري وي . نو دلته د طبي اخلاقو څلورم ار یاني زیان نه رسول Non-malefincence په کاریږي.

۴- زیان نه رسول Non-malefincence


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د طبي اخلاقو دا وروستي ارونه ، ښه کول او زیان نه رسول، په اصل کې د یو ډېر نري انډول ساتلو ته وايي . ډاکټر باندي نه یوازي دا لازمه ده چې خپل ناروغ ته ښه ورسوي بلکې د زیان رسولو نه تر وروسي بریده مخنیوی وکوي. داسې کول ډېری وخت ډیر دقیق غور او ځیرنه غواړي. ډیرې داسې ناروغۍ شته چې درملنه یې د انسان د روغتیا یو بل اړخ ته نه رغیدونکی زیان رسولی شي. په داسې ځایونو کې باید ډاکټر د دې دواړو ارونو پام کې نیولو ته ژوره پاملرنه وکړي . د دې ار د پام کې نیولو ارزښت په دې بیلګه کې ښه ځرګندیدای شې چې که چیرې یو ناروغ د ملا د یو معمولي درد سره ډاکټر ته لاړ شي او ډاکټر د دې درد د تشخیص لپاره ، پرته له دې چې کرارونکي درملونه وکاروي ،د ملا د ایکسرې لاربښونه وکړي نو ناروغ ته به یې د زیانمنونکو وړانګو یوه لویه پیمانه پرته له اړتیا نه وکړې وي، او په دې توګه به یې د زیان نه رسولو د ار نه برید کړی وي.
د زیان نه رسولو ار د عامو وګړو د روغتیا ساتنې په برخه کې هم بنسټیزه ونډه لري. د ساري په توګه که چیرې یو ناروغ په داسې یوه انتاني ناروغۍ اخته وي چې نورو وګړو ته یې لیږدیدنه اسانه وي ، نو ډاکټر ته په کار ده چې ناروغ ته د اړینو لاربښونو سربیره نور داسې مخنیویز ګامونه هم واخلي چې د عامو وګړو خوندیتوب ډاډمن شي.

پورته څلور اخلاقي ارونه په ډېرو روغتیایي او ټولنیزو بیلګو کې د یو بل سره په ټکرکې راځي چې راتلونکې کې به په دې اړه ولیکو.
په لسګونو طبي اخلاقي مسایل شته چې یو ډاکټر ته په کار ده پرې خبر وي ، او د درملنې په مهال یې په پام کې ونیسي . دا ټول مسایل او ستونځې تر ډېره بریده د پورتنیو څلورو ارونو په رڼا کې مطالعه کیدای شي.
لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه د څلورو اخلاقي ارونو دا تیوري له ځانه نیمګړتیاوې لري خو بیا هم د یو ډاکټر لپاره د ورځنې کار د اخلاقي ساتلو لپاره ښه لاربښود کیدای شي. له یو ډېر لومړني طبي پروسیجر نه نیولې تر پر مختللي جراحي عملیاتو پورې درست طبي کړه وړه باید په اخلاقي معیارونو باندې برابر وي. پورتني ارونه د داسې کولو لپاره ښه لاربښود دی. د درملنې اخلاق البته په پورتنۍ تیوري کې نه لنډیږي. په راتلونکې کې به په ګڼو نورو طبي اخلاقي ننګونو وغږیږو.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ